ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

# د خوشحال خان خټک او اشرف خان هجري د تاؤ تريخوالي او کړکېچ يو څېړنيز جاج

An exploratory analysis of the strained relationship between Khushal Khan khattak and Ashraf Khan Hijri

شهباز محمد[1]

ډاکټر بادشاهِ روم[2]

## Abstract:

*Ashraf Khan Hijri, the eldest son of Khushal Khan Khattak, was a prominent figure whose relationship with his father was marked by both close mentorship and eventual opposition. Khushal Khan, as a father and leader, provided Ashraf with education, training, and exposure to the principles of politics and the complexities of life. Despite this guidance, Ashraf Khan aligned himself with the Mughals, Khushal Khan's adversaries, creating significant challenges for his father's leadership and legacy. This strained relationship deeply influenced Khushal Khan's poetic expressions, where he frequently addressed his son's opposition.This article explores the resentment and discord between father and son from a research perspective, analyzing its implications for literature, politics, and history. By delving into Khushal Khan's poetry and the historical context of their conflict, the study offers valuable insights into the interplay of personal and political dynamics within Pashtun society. This research will serve as a crucial resource for students and scholars of literature, political science, and history, shedding light on the complex relationship between familial ties and political allegiances.*

Keywords: Ashraf khan Hijri, eldest son, Khushal Khan, mentorship, opposition, Mughals, Allied, Challenges, Father, Leadership, Legacy

اشرف خان هجري د ستر خوشحال خان په ژوندو زامنو کښې د ټولو نه مشر وه. دده د ژوند د حالاتو او واقعاتو نه دا خبره مخې ته راځي چې دے يو ډېر دور انديش او زيرک انسان وه . په جرګو مرکو هم پوهېدو او د قبيلي د سردارۍ په هنر ئي هم مټ بر وه . د شاعرۍ په رموز خبر وه او ټولنيزو ستونزو ئې هم نظر لرلو. د ښکار او جنګ په فنونو ئې لاس برے حاصل وه . دے

[1] پي ايچ ډي سکالر شعبه پښتو يونيورسټي اف ملاکنډ

[2] ايسوسي ايټ پروفيسر شعبه پښتو يونيورسټي اف ملاکنډ

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

په کال ۱۰۴۴ هجري کښې زېږېدلے ؤ ۔ دَدهٔ دَ زېږون نېټه بابا پخپله یوه فارسي قطعه کښې بیان کړې ده او دَ ابجدو په حساب ئې دَ "بهار اهل شګفت" نه راویستې ده ۔

"به زادیائے مه روزه پاس اول شب
بزاد اشرف و اندر کنار دایه بخفت
چه بود وقت بهار و شگفتن گل ها
حساب دے آمد "بہار اہل شگوفت"[13]

مېجر راورټي هم دَدهٔ دَ زېږون نېټه ۱۰۴۴ هجري برابر دَ ۱۶۳۴ عیسوي لیکلې ده ۔ [2]
خداے بخښلي عبدالحی حبیبي په خپل کتاب پښتانهٔ شعراء اول حصه کښې دَ اشرف خان هجري دَ زېږون دَ نېټې نه ډېره کړې ده ۔ [3] خداے بخښلي دوست محمد خان کامل په خوشحال بابا پخپل لیکلي کتاب خوشحال خان خټک سوانح حیات کښې چې دَ هغهٔ دَ اولاد کوم ذکر کړے دے، په هغې کښې ئې دَ اشرف خان هجري تاریخ پېدائش داسې لیکلے دے:

"اشرف ہجری سترہ یا نور مضان 1044ھ مطابق مارچ 1636ء یا 1049ھ مطابق جنوری 1640ء پیدا ہوا تھا"۔[4]

محقق عبدالرؤف رفیقي پخپل ضخیم کتاب ویاړلي نهم توک کښې هم دَدهٔ دَ زوکړې نېټه کال ۱۰۴۴ هجري ق خودلې ده ۔ [5] محقق پروفېسر ډاکټر محمد زبېر حسرت دَ هجري دَ زوکړې دَ څو کالو دَ اختلاف په خپل اوږد بحث کښې داسې لیکلي چې دَ خوشحال بابا په لیکلي اشعارو کښې دَ "بهار اهل شګفت" نه هم دغه نېټه راوځي خو ځیني خلقو دغه "بهار اهل شګفت" لوستے دے ۔ چې دَ "ه" په ځاے ئې "ی" پکار راوستې شوې ده ۔ دے دا هم په ګوته کوي چې ایل دَ ترکی ټکے دے او اهل دَ عربی دے او معنیٰ ئې نزدې نزدې یو شان ده ۔ دَ لا دَ ابجدو په حساب قیمت ۵ دے او دَ ی قیمت ۱۰ دے ۔ دغه رنګ په وړومبی مصرعه کښې "زاویائے" بعضې خلقو "زاوبائے" لوستے دے، چې صحیح نهٔ ښکاري ۔ په زاویائے دَ (ز+ی) ده ۔ په دغه حساب دَ اشرف خان هجري دَ زېږون صحیح نېټه اوولسمه دَ رمضان کال ۱۰۴۴ هجري ق ده ۔ کومه چې په عیسوي کال کښې دَ اووم مارچ کال ۱۶۳۵ عیسوي برابر دے ۔ دلته دَ زبیر حسرت په حساب کړې نېټه یعنې شپږم مارچ کښې دَ یوې ورځې فرق دے۔[6] په کال ۱۰۴۴ هـ ق یعنې ۱۶۳۵ء کښې

[3] ۱۰۴۴ هجري

وړومبۍ روژه په نولسمه فرورۍ ده کومه چې دَ ګل په ورځ ده ۔ په دغه حساب دَ مارچ دَ میاشتې اوومه نېټه راځي ۔[7]

دَ اشرف خان په پښتو شعر و شاعرۍ کښې خپل خاص مقام لري ۔ په فارسۍ کښې هم کافي کلام لري ۔ په پښتو شعر کښې هجري تخلص کوي او په فارسۍ کښې اکرام او روهي په طور دَ تخلص پکار راولي ۔ کله کله خټک هم لیکي ۔

دَ پلار په ځاے دَ خټکو سردار کړے شوے ؤ ۔ دَ څو کاله سردارۍ نه پس مغلو بندي کړو ۔ دَ خپل عمر اخیري څوارلس کاله ئې دَ ګوالیار او بیجاپور په بندیخانو کښې تېر کړي دي او هم هلته وفات شوے دے ۔ ازاد کان ئې دَ وفات نېټه داسې لیکلې ده:

"دَ هجرت زر سل شپږ وو
اشرف خان چې فوت شو یاره
غم اندوه، دَدهٔ تاریخ دے
که حساب کړے ویې شماره"[8]

په ۱۱۰۶ هـ ق وفات شوے دے ۔ دَ "غم اندوه" نه دَ ابجدو په حساب دغهٔ نېټه راځي ۔ په دویان کښې ئې، غزل، رباعیات، مخمس او قصیدې دَ زورداري او سوز نه دَ ډکې شاعرۍ غمازي کوي ۔ دَ خپل وطن نه لرېوالے او خپلو خپلوانو دوستانو جدائي ئې په پرسوزه انداز بیان کړې ده ۔

دَ خپل پلار خوشحال بابا سره دَدهٔ اختلاف څنګه شروع شو، مؤرخینو دَ هغې څو وجوهات راښکاره کړي دي ۔ خو دلته دا خبره دَ نظر نه غورځول نهٔ دي پکار چې دَدغه هر څه په شا مغلي سازش په بېلا بېلو صورتونو کښې هم شتون درلودؤ ۔

ښاغلے همېش خلیل دَ ډوډې دَ جنګ نه وړاندې دَ پلار او زوي ترمېنځ ناچاقي یادوي لیکي:

**"دَ ډوډه جنګ نه اګاهو دَ پلار او زوي ترمېنځه څه غلط فهمي پیدا شوه ۔ وجه ئې دا وه چې خوشحال دَ اشرف خان هجري او ځینو نورو زامنو دَ مشورې نه بغېر تري او بولاق ته لاړ ۔ دَ "ډوډه" دَ جنګ نه پس دَ دواړو ترمېنځه تعلقات نور هم خراب شول"۔[9]**

دوست محمد خان کامل هم "خوشحال خان اور اشرف خان هجري کی آویزش" دَ عنوان لاندې داسې لیکلي دي:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

"ڈوڈہ کی لڑائی سے کچھ عرصہ پہلے خوشحال خان اور اشرف خان کے درمیان غلط فہمی سی پیدا ہوگئی تھی جس کا سبب یہ تھا کہ خوشحال خان اپنے چند بیٹوں سمیت اشرف خان کے صلاح و مشورہ کے بغیر محال تری و بولاق چلا آیا اور بمقام یوٹ ڈیرے ڈال کر اس جگہ کی خاربندی کی۔ ڈوڈہ کی لڑائی کے بعد باپ بیٹے کے تعلقات کچھ اور بھی خراب ہوگئے اور کچھ فوجی نقل و حرکت اور چپقلش بھی ہوئیں۔ مگر اشرف خان خود باپ کے مقابلے میں نہ آیا"۔[10]۔

ډاکټر اقبال نسیم خټک دَ پلار و زوي ترمېنځه کړکیچ دَ ډوډې فتحه او یا څه بل سبب بنائي:

"اگرچہ اشرف خان خوشحال کا بڑا بیٹا تھا اور صاحب تدبیر آدمی تھا مگر ڈھوڈہ کی فتح یا کسی اور سبب کی بناء پر باپ بیٹے کے درمیان مخالفت کی خلیج وسیع تر ہوتی چلی گئی۔ یہاں تک کہ خوشحال نے لاچی میں اشرف خان کے قلعے مسمار کئے اور وہاں پہاڑ کی چوٹی پر تعمیر کردہ اپنے ایک قلعہ یوٹ (کرک) کی از سر نو مرمت اور خاربندی کی مگر اشرف خان بہرام کی طرح اپنے والد کے سامنے آنے کی گستاخی نہیں کرتا تھا۔ بہر حال حالات یہاں تک خراب ہوگئے کہ نوبت جنگ تک پہنچ گئی"۔[11]

لکه چې وړاندې ورته اشاره شوې ده ۔ دَدغه واړه جنګونو او په خپلو کښې دَ بې اتفاقۍ په شا دَ مغل سامراج لاس ضرور ؤ ۔ په دغه مهال هغۀ دَ جنید باچا خبره چې:

**"حکومت دَ اکبر دَ زماني راسې دَ خټکو حوصله افزائي کړې وه او هغوي ئې لکه دَ پارسنګ په طور دَ یوسفزو خلاف استعمال کړي وو" ۔ [12]**

او که مونږ هم دغه خبره په وړاندې بوځو نو مغلو به هم په دغه قبیله کښې بل، دَ یو وړور په مقابله کښې بل وړور او دَ پلار په مقابله کښې زوے یا زامن په طور دَ پارسنګ استعمال کړي وو ۔

خوشحال بابا چې کله د مغلو بند نه وطن ته راغے او دَ ناکامه ئې دَ هغوي ملګرتیا بیا هم کوله، خو اوس حالات بدل وو ۔ دَدۀ هم دَ مغلو نه زړۀ چاؤدے ؤ او مغل حکمرانان هم ترې بدظنه وو ۔

خوشحال بابا دَدغه مهال دَ اختلافاتو نه دومره پوزې له راغلے ؤ چې هر څه ته ئې شا کړې وه ـ که يو طرف ته ئې دَمغلو دَ زړې نمک خوارئ لحاظ ساتو نو بل لورې ته پرې دَ هغوي دَ بعضې لويو منصب دارانو احسان لکه دَ غرۀ پروت ؤ او مخې له ئې راتلے نۀ شو ـ

"دَ فساد فکر مې نشته خداے حاضر دے
خپل ساعت به تېروم وخت اخر دے"[13]

په خپل مشن کښې هم ناکامه ؤ ـ چا ئې ملګرتيا نۀ کوله ـ کومو قبيلو چې دَدۀ په اواز لبيک نۀ وې، دَ هغوي دغه انکار خپل يو مضبوط شا منظر درلود ـ ځکه خو هغه په دې وئيلو مجبوره شو:

"دَ بې ننګو پښتنو له غمه ما
لوئې پرېښوه ونيوله کمه ما
دا هم ښه که په دا کار کښې هونبره کار وې
چې که واخيست انتقام له ګرمه ما
چې دَ ننګ ګوهر مې مات شو دواړه سترګې
په ژړا نۀ کړے يو دم بې نمه ما
هغه درمے په لاس نۀ راغے بېړيه!
استاده کړه په ساحل له يمه ما
هغه ملا مے چه په هوډ سره لوئے غر وو
په ناکام کړه و مغل ته خمه ما
هم دَ بخت و ماته شا شوه هم دَ خلقو
په مغل کړ ځکه مخ له همه ما
که مے لاس وے په رضا مے به کښې نۀ ښول
دَ مغل په لورې دوه قدمه ما
دَ هغو دَ خولے کړے خبرے اورم
چه خبره ورته نۀ کړه سمه ما
ذم دَ خپلو دَ پرديو رامعلوم شو
که هر څو ساتۀ خپل ځان له ذمه ما
په هغو لويو خبرو شرمسار يم
چه هر چا وته ويستے له فمه ما
سل غندنے پيغرونه را دوچار شول
چه به ځان ساتۀ هميش له ذمه ما
دا الم مے هيڅ الم سره سم نۀ دے

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

کـه لـیـدلـی دی هـزار الـمـه مـا
مـگر بخـت راسـره بیـا مـدد اغـاز کـا
چـه فـارغ کـا د انـدوه لـه سـمـه مـا
هـاتي ځکـه پـه سـر لوني تورے خـاورے
چـه خبر کړ دَ خوشــحال لـه غمـه مـا"[14]

بهادر شاه ظفر کاکاخېل دَ خوشحال مشر زوي اشرف خان ته دَ سردارۍ دَ حواله کولو په بابله ليکي:

**"خوشحال خان دَ قيد و بند په ورځو کښې دَ خټکو قبيلے دَ مشرئ او منصب دارئ فرائض دَ خوشحال مشر زوي اشرف خان ته حواله شوي وو ۔ په دغه ورځو کښې هم دا فرائض دَ اشرف خان په غاړه وو ۔ خوشحال خان هم په دې مشرۍ رضا وُ ۔ ليکن دَ خوشحال خان دوېم زوے بهرام خان دَ خپل ورور په مشرۍ ناراضه وُ او دَ دواړو ورونو ترمېنځه تعلقات ډېر کشيده وو ۔ بهرام دَ اشرف خان دَ لاسه در په ديکے وُ چې خوشحال خان لاچې ته لاړ نو مهابت خان دَ اشرف کان نه دَدې خبرې مچلکه واخستله چې خپل پلار به په خپله علاقه کښې نهٔ پرېږدي ۔ په دې خبره دَ خوشحال په جذباتو کښې نور شدت پيدا شو" ۔[15]**

دَ اشرف خان په داسي حالاتو کښې دَ مغلو منصب قبلول چې پلار ئې هغوي بندي کړے وُ ، اگر چې دا ثابتوي چې دهٔ دَ پلار په مقابله کښې خپل منصب له ترجيح ورکړې وه ۔ خو ډاکټر سمندر يوسفزي دلته يوې بلې نکتې ته هم اشاره کړې ده کله چې هغهٔ دَ پلار دَ رضا نه بغېر کابل ته تلے وُ:

**"اشرف خان دَ پلار خوشحال خان خټک دَ گرفتارۍ په غرض نهٔ وُ تلے ځکه چې دَ خوشحال خان دَ قېدولو حکم بادشاه اورنگ زېب عالمگير کړے وُ او خبره دَ امير خان خوافي دَ لاسو نه وتې هم وه ۔ اشرف خان به په پلار هم خفه وُ خو په فېروز خان اور بهادر خان ئې منصبداري هم نهٔ سود کېده ۔ دَ پلار په گرفتارۍ ئې خاموشي اختياره کړه او دَ امير خان خواله په دې غرض لاړو چې منصبداري تر لاسه کړي" ۔[16]**

اگر چې خټک نامه دَ خوشحال خټک په گرفتارۍ خفه وه او دَ خوشحال خټک خپل خلق په دغه سبب بې کوره شوي در په در وو ۔ خو اشرف خان چې کله منصب دار کړے شو نو عوامو ته دغه فائده اورسېده چې ايله په کور شو ۔ عام اولس هم دَدغه خپلو ضرورياتو او مجبورو له کبله اشرف خان ، خپل خان تسليم کړو او دَ خوشحال دَ پنځه کاله قېد په دوران کښې دهٔ تر څه حده کاميابه سرداري اوکړه ۔ خو افسوس په دې خبره دے چې دَ منصبدارۍ خوږ خوند دَ هغهٔ دَ حلق هاغه تريخوالے ختم کړو کوم چې دَ دهٔ دَ پلار دَ گرفتارۍ او بې عزتۍ وُ ۔ عن' دا چې دهٔ خپل هر

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

څه دَ مغلو په رضا پورې تړلي وو او په شک سره هم داسې څه اقدام ته تيار نهٔ ؤ چې په هغې ئې منصب ته خطره پېښه شوې وې ۔

محترم پرېشان خټک هم دې لورې ته زمونږ پام راګرځوي:

"لیکن بعد کے واقعات سے ظاہر ہوتا ہے کہ خاندان کے اندر لوگ، مغل صوبہ دار سے اشرف کان کی دلی وفاداری کو اچھی نظر سے نہیں دیکھتے تھے اور جب یہ ثابت ہوا کہ اشرف کان اپنے باپ کو یکسر بھول کر صرف اپنی منصبداری کا استحکام چاہتا ہے اور صوبہ دار کی خوشنودی کے لئے ہر وقت تگ و دود میں مصروف رہتا ہے۔ یہاں تک کہ صوبہ دار کے حضور اپنے باپ کا نام تک نہیں لیتا کیونکہ وہ صوبہ دار کے حکم سے گرفتار ہوا تھا اور اسی کی سازش سے قید تھا۔ اس کی رہائی بھی اسی کی سفارش پہ ہو سکتی تھی۔ سید امیر خان (صوبہ دار کابل) کا اعتماد حاصل ہونے کے بعد اگر وہ اور سفارش کرنے کی جرات نہ بھی کرتا، صرف اتنا عرض کرتا کہ میں اپنے باپ کے ائیندہ کے رویے کے لیے ہر قسم کی ضمانت دینے کے لیے تیار ہوں، لیکن اتنی بے عزتی اور سزا کے بعد اب تو اسے رہا کیا جائے تو وہ اپنے خاندان اور آنے والے موّرخین کی نظروں میں اپنی صفائی پیش کر سکتا۔

مگر الٹا اس کے سلوک سے یہ ظاہر ہوا کہ وہ اپنی اور اپنی سرداری کی بہتری اس میں سمجھتا ہے کہ خوشحال خان قید میں رہے جس کا ثبوت یہ ہے کہ تقریباً پانچ سال تک خوشحال خان کی قید اور نظر بندی کے دوران صوبے کی طرف سے اس کی رہائی کے لئے کچھ بھی نہیں کیا گیا"۔[17]

دَ اشرف خان هجري په دغه قسمه کارونو خوشحال بابا خوشحاله نهٔ ؤ ۔ هغهٔ چې په کال ۱۰۹۱ هجري کښې کومه قصيده ليکلې ده دَ هغې نه دَ هغهٔ دَ ګيله من زړهٔ پته لګي ۔

"چې په واړو کښې ارشد دے
نن يادېږي اشرف خان
دَ مور پلار نيکه ته نهٔ دے
دا ناکس دے لا بل شان
په ژوندن مې خپل ځاے ورکړ
باندې زهٔ شوم مهربان
زر ئې تول کړل په لکونو

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

طبېلي ئي عراقيان
لوئي زما په نوم په توره
خواروي مې فرزندان
دَ خپل ځان په شيرازه دے
تار په تار برادران
بدخواهان سره خاندي
په زړهٔ چوي نېک خواهان
ښه کارونه چې زما وو
يا زما دَ دود مان
يو په دهٔ کښې پېدا نهٔ شو
ورت خلق دي حېران
که ئې بولم ګلستان ته
باندې اور دے ګلستان
دَ ګونګټ غوندې ځار وځي
په سرګين او په ګودان
دے نامرد له نامردیٔ
تل له ورونو نه ترسان
دَ ګلونو په پټي کښې
کره ځانته خارستان
ښه لايق زويه مې نور دي
ولې خدائے کړل کشران
زين دَ زرو په خرهٔ پروت دے
په ښه اس باندې پالان
قسمت کاندې خپلې چارې
نهٔ علاج شته نهٔ درمان
تربيت زما په دهٔ ؤ
په ښوده باندې ياران
که مې ولوستل و دهٔ ته
کتابونه دَ لقمان
سر تر پايه وهم ويره
په خپل زويه بدګمان
لېکن دے دے په حسد کښې

بـل بـه نـهٔ وي هـېـښ انســـان"[18]

دَ بابا دَدي قصديي نه دا صفا ښکاري چي هغهٔ دَدي خپل مشري زوي سره ډېر ښومره اميدونه وابسته کړي وو کوم چي دَ بده مرغه هغهٔ پوره نهٔ کړې شول ـ

خوشحال بابا چي په رتنمبور کښي کومه شاعري کړې ده هغه دَ پښتو په حبسياتو کښي خپل نظير نهٔ لري، په شاعرئ کښي ئې هم دَ خپلوانو او بيا دَ زوي اشرف خان نه ګيله کړې ده چي دغه واړه زما په بندي کولو کښي پوره پوره شريک دي:

"اقـربـا راتـه عـقـرب شــــول
راضــي منـد مي پـه تعـب شــول
دواړه تــرونــه مــي نــاا‌هـلــه
ابــوجـهـل بـولـهــب شـــول
زهٔ ئـي بـنـد کـړم پـه مـغـلـو
پـه خـانئ او پـه منصـــب شــول
رشـــوتــونــه ئـي قـبـول کـړه
په تلاش کښـــي روز و شــب شــول
دا لوے زويـه مي لوے مـهٔ شـــه
دَ زرو بــلا ســـبــب شـــول
زهٔ ئـي هـنـد لــره روان کـړم
پـه نشـــاط او پـه طـرب شـــول
خپلخـانـه مي شــوه پـه غرونو
پري کـارونـه پېش عجب شــول
نــاز پــرور زويــه مــي واړه
پـه فريـاد او پـه شـغـب شــول
چـي ئـي نـمـر لـېـدلـے نـهٔ ؤ
پـه ځـنـګلو تشـنـه لب شـــول
درســـت اولـس قـبـيـلـه واړه
ګرفتـار ډېر پـه غضـب شــول
پـــه آه آه دَ فــراق ژنـــو
زړونـه وري دَ عـنـب شـــول
خـوشـــحـال نـهٔ مـونـدو خـټـکـو
کـه ئي هر څو پـه طلب شـــول"[19]

دېخوا دَ مهابت خان سياست دا ؤ چې پلار او زوے پخپلو کښې خلاف کړي خو بل لوري ته ئي داسې چال چلوو چې دواړه وروڼه اشرف خان او بهرام خان په شا ټيوو - بهرام هم دَ خپل اقتدار دپاره په هېڅ اړ نۀ ؤ - دَ مغلو په نظر کښې ئې دَ ځان ښه ثابتولو دپاره دَ خپل پلار ښکاره په ننداره مخالفت شروع کړو -

اشرف خان هجري دَ مغل حکومت مکمل وفادار ؤ - هاغه واړه ذمه وارئ چې کومې مغلو دَ هغۀ په غاړه کړې وې، ئې ښه په اخلاص سر ته رسولې - خو کورني مخالفت ئې داسې ؤ چې دمک ته ئې نۀ پرېښولو -

مېجر راورټي ليکي:

> **"Ashraf endeavored for some time to carry on the government of his clan, and also to perform his duties towards the Mughal Govt; by aiding the Peshawar authorities in the administration of the affairs of that province; but he was opposed and thwarted in all his endeavors by his brother Bahram, in the same also endeavored to take the life of his father".**[20]

ژباړه: اشرف تر څه وخته دا زيار اوکړو چې دَ خپلې قبيلې حکمراني اوکړي او دا ئې هم کوشش ؤ چې دَ صوبې په حالاتو قابو کولو کښې دَ پېښور دَ حکمرانانو لاس امداد اوکړي خو دَ هغه دَهغه کوششونو په لاره کښې دَ هغه ورور بهرام حائيل ؤ - هاغه بهرام چې هغۀ په دې کوشش کښې ؤ چې خپل پلار اووژني -

اخر بهرام په خپلو دغو سازشونو کښې کامياب شو - اشرف خان مغلو گرفتار کړو او هندوستان ته ئې بندي اولېږرو - خوشحال خان دَ اورنگ دَ لاسه دَ خپلز وي اشرف کان په گرفتارئ دَ زړۀ نۀ خفه ؤ - دَ هغۀ دغه خفگان دَ هغۀ دَدې شعرونو نه څرگند دے او بيا دَ خوشحال بابا په هغه خط زړۀ اربې اربې شوے ؤ کوم چې ورته دغه خپل مشر زوي اشرف خان دَ هندوستان دَ بند نه ليکلے ؤ:

"په مردن پرووادار نۀ يم
په زندان پرووادار نۀ يم
يو غصه دوهم بېلتون دے
چې په اور په ابو زۀ يم
اشرف خان دې راته کښلي
څه خو خوښ په خط دَدۀ يم
پنځه مياشتې يم په بند کښې
بابا دېر ډاده په زړۀ يم

زویــه مــا خــو غــم دي تــا کــړ
چــي تــهٔ ښــه ئــي زهٔ خــو ښــه یــم
چــي فــلــک ســره ســر بــاســي
پــه هــمــت کښــي هــغــه زهٔ یــم

کــړه ئــي نــهٔ دي بــې حــکــمــتــه
زهٔ خــوشــحــال دَدې پــه کــړه یــم"[21]

دَ خوشحال بابا دَ کلام نه لوستونکي په دې نتیجه رسي چي دَ دهٔ دَ اشرف خان هجري نه لویه طمعه وه ـ ځکه دَدهٔ په سرداریَ خوشحاله ؤ او پخپله ډېږي ته شوے ؤ ـ خو څه حالاتو داسي پېر اوخوړو چي هغه دَ خپلو سره لاندې وتو او څه دَ هغهٔ خپل وروڼه دَ سرکار په لمسه کښي راغله ـ په خپلو کښي مشت و ګرېوان شول ـ دَ دوي دغه اختلافات او دښمنی دَ خوشحال بابا هاغه واړه امېدونه دَ خاورو لاندې کړه کوم چي ورسره هغهٔ تړلي وو ـ

هر څو که خوشحال بابا دَ یو لوئې حوصلې خاوند ؤ، په زړهٔ سخت ؤ ـ دَ سختو حالاتو نه اوتے ؤ خو بیا هم هغهٔ په سینه کښي یو حساس زړهٔ لرو ـ څه زامن که ئي هر څو دَ هغهٔ په معیار پوره نهٔ ختهٔ، په لاره ئي راتله خو دهٔ بیا هم په خپل زړهٔ کښي پدري شفقت لرو ـ په بندي خانه کښي ورته دغه زامن یو یو مخي ته کېدو ـ په کابل کښي چي دَ اشرف خان دَ بندي کولو نه خبر شو نو په یوه مثنوي کښي ئي داسي یاد کړو:

"اشرف خان په چرته بند وي
څه کا څه زنګه به ئي ژوند وي"[22]

دَ اشرف خان په بندي کېدو ئي په یو بل حبسي نظم "شکایت له زماني له خلق" کښي هم خفګان ښکاره کړے دے:

"حال مي پټ نهٔ دے سرګند دے
زهٔ په بند زوے مي په بند دے"[23]

او چي په جېل کښي ورته دَ خپل کلي نه خط راغلے دے، دَدغه وخت جذبات ئي په یو اوږد مثنوي نظم کي محفوظ کړي دي ـ دَدې نظم عنوان" ژړا دَ خط په راتله" دے:

"پــس لــه ډېــره انــتــظــاره
ډېــرې مــیــاشــتــي ډېــر نــهــاره

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

چې قاصد راوړي خطونه
خوزوم دَ خط پېچونه
چې هر بېچ غور زاده شي
لوند دَ سترګو په اوبه شي
په هر حرف چې اوښکې څاڅي
ځني نور حرفونه پاسي
الف شين کاندې رې فې کا
بې نون کاندې دال رې کا"[24]

دَ اشرف خان ګرفتارۍ که هر څو دَ پلار دغه اميدونه تِتر بِتر کړه ۔ دَدهٔ په ستونزو کښې نورې اضافې اوشوې خو بيا هم خوشحال بابا دَ خپل زوي بهرام خان او نمسي افضل خان سره څه اميد وتاړهٔ ۔

ددغه اوږد بحث نه مونږ په دې نتيجه رسو چې د خوشحال بابا د خپل زوي سره دغه تاؤ تريخوالے او کړکېچ د سياست د روايت سلسله وه ، لکه څنګه چې په نړيوال سياست کښې دغه اختلافات زړه خبره ده ، پلار ئې د زوي خلاف اودرولې دے او زوے ئې د پلار خلاف راپاڅولې دے . هم دغه رنګ د خوشحال خان او دهغه د زوي د اشرف خان حالات او واقعات مخې ته راغلي دي . چې دواړه يوبل ته ولاړ دي . څه که هم اشرف خان د پلار مخې له دومره په ښکاره نه دې راغلے ولې د مغلي لمسون په اساس ئې د خپل منصب يا ګټې دپاره تر دې حده هڅې کړې دي چې مغلو ته ئې د پلار خلاف مچلکه هم ورکړې ده . او دغې رويې د اشرف خان دپاره د خوشحال خان خټک په زړه کښې د تاؤ تريخوالي يو زبردست طوفان راپورته کړې دے چې په نتيجه کښې ئې ډېر بلها شعرونو د خوشحال خان خټک له قلمه وتې دي .

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.7 No.4 2023

## حواله جات:(References)

[1] هجري، اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري، تحقيق، ترتيب او سمونه همېش خليل، پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۰۱ء، مخ ۶
[2] *Reverty, H.G, Selections from the Poetry of the Afghans, De Chap Zai Publishing Kohat Road Peshawar, 1981, P 249*
[3] حبيبي، عبدالحئ، پښتانهٔ شعرا، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، تاريخ اشاعت نهٔ لري، مخ ۸۵
[4] کامل، دوست محمد خان مہمند، خوشحال خان خٹک سوانح حیات، شاہین بکس سپوگمئ پلازہ جمرود روڈ پشاور، دوسرا ایڈیشن، 2006ء، ص ۲۸۹
[5] رفيقي، عبدالرؤف، ډاکټر، ويارلي، نهم ټوک، دَ افغانستان ملي تحريک او دَ ډاکټر رفيقي څېړنېز مرکز کوټه، ۲۰۱۷ء، مخ ۳۸۷۲
[6] حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، دَ خوشحال دَ تاريخ ګورمي، زرپانه پرنټرز پبلشرز پېښور او دَ ادبي دوستانو مرکه مردان، دوېم چاپ، ستمبر ۲۰۱۰ء، مخونه ۵۱-۵۳
[7] الکیانی، عبدالرحمن، مولانا، الشمس والقمر بحسبان، اسلام کا نظام فلکیات، مکتبہ اسلام لاہور، مارچ 2002ء، ص 273
[8] کامل، دوست محمد خان مہمند، خوشحال خان خٹک سوانح حیات، ص ۲۸۹
[9] هجري، اشرف خان، ديوان اشرف خان هجري، مرتب همېش خليل، مخ ۱۲
[10] کامل، دوست محمد خان مہمند، خوشحال خان خٹک سوانح حیات، ص ۲۳۸
[11] خٹک، اقبال نسیم، ڈاکٹر، پشتون شناس، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، 2011ء، ص 159
[12] اولف کيرو، پېټان، پښتو ترجمه جنېد باچا، پنځلسم باب، مشموله پښتو، جولائي ۱۹۶۴ء تا دسمبر ۱۹۶۵ء، شماره ۳-۴، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، مخ ۲۵۸
[13] ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ دَ تاريخ په رنا کښې، مخ ۶۱۲
[14] خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، مخونه ۱۸-۱۹
[15] ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ دَ تاريخ په رنا کښې، مخ ۶۱۲
[16] سمندر، يوسفزے، ډاکټر، خوشحال او سياسيات، (تحقيقي او تنقيدي جائزه) پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون، ۲۰۱۸ء، مخونه ۲۵۹-۲۶۰
[17] خٹک، پریشان، پروفیسر، پشتون کون؟(تاریخ، تحقیق، تنقید)، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، اشاعت دوم، 2005ء، ص 455-456
[18] خټک، خوشحال، خان، ارمغان خوشحال، مقدمه ميا سيد رسول رسا، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، دوېم ځل، ۲۰۰۱ء، مخونه ۳۳-۳۵
[19] خټک، خوشحال خان، فراق نامه، مقدمه، حاشيه او لټون دَ همېش خليل، قامي مکتبه پېښور، ۱۹۸۳ء، مخ ۴۸
[20] *Reverty, H.G, Selections from the Poetry of the Afghans, p 249*
[21] خټک، خوشحال خان کليات، مرتب دوست محمد خان کامل مومند، مخ ۱۸۰
[22] خټک، خوشحال خان، فراق نامه، مرتبه همېش خليل، مخ ۷۲
[23] همدغه اثر، مخ ۱۱۷
[24] همدغه اثر، مخ ۱۱۱